نبوي ځلاوي:

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي:
ژباړه: په قيامت کې به متکبرين د ذرو (د خاورو کوچنيو ټوټو) په څېر وي، خو د انسانانو په بڼه به وي او ذلت به يې هر اړخ نيولی وي.
«رواه الترمذي»

طلوع افغان

غوره خبري:
حضرت علي کرم الله وجهه:
يوازې د الله جل جلاله څخه هيله او اميد لره!

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"
د امتياز څښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست
په اوونۍ کې دوه واره چاپيږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، پنجشنبه ۲۲/ذي الحجة الحرام/۱۴۴۶ هـ ق، ۲۹/غبرګولی/ ۱۴۰۴ ل کال – ګڼه (۱۳)
Thursday-19-June-2025 Issue: 13

د مطالبو سرليکونه

- د کوچنيوالي خاطرې... (عبدالظاهر "څرک" "مظهري")
- پر ايران د اسرائيلو بريد (مولوي نورالحق "مظهري")
- ايران او اسرائيل (احمد "خاطري")
- د خوشحال خان خټک د ديوان... (ګل احمد "جلالي")

د طلوع افغان خبري (سرليکنه)

پر مختللي ټکنالوژۍ؛ د جګړو ډول بدل کړی!

په دې وروستيو کې د اسرائيلو او ايران ترمنځ سخت جنګ نښتی دی، دواړه هيوادونه يو پر بل توغنديز بريدونه کوي، دا چې جنګ چا پيل کړ او عوامل يې څه دي، جلا بحث دی، خو دلته زمونږ هدف دادی، چې د ايران او اسرائيل ترمنځ، جغرافيوي فاصله تقريبًا ۱۵۰۰ کېلو متره ده.

د اشغال سوي فلسطين (اسرائيل) څخه توغندۍ فير کېږي، په ايران کې لوړپوړي نظامي جنرالان د خوب په خونه کې په نخښه کوي، دغه توغندۍ ۱۵۰۰ کېلو متره فاصله وهي، د ايران اټومي تأسيسات هدف ګرځوي.

په مقابل کې د ايران له خاوري توغندۍ فير کېږي، د اسرائيل زړه تل ابيب کې دفاع وزارت او مختلف هدفونه په نخښه او له منځه وړي.

د دواړو لورو ترمنځ جګړه شديده ده، په داسي حال کې چې په جغرافيوي لحاظ، يو او بل ۱۵۰۰ کېلو متره ليري دي.

د پرمختللي ټکنالوژۍ په مټ د نړۍ ډېرو پرمختللو هيوادونو په عصري وسلو ځانونه سمبال کړي دي، د شمالي کوريا مشر يو وخت وويل، داسي توغندۍ يې جوړه کړې، چې له شمالي کوريا مستقيمًا سپينه ماڼۍ ويشتلای سي.

د نړۍ قوي هيوادونو داسي اټومي وسلې جوړې او خوندي کړي دي، چې په استعمال سره يې نړۍ تباه کولای سي.

د نن ورځې پرمختللي ټکنالوژۍ د جګړو ډول بدل کړی، مخکې به جنګونه په توپ او ټانک کېدل، خو نن ورځ وضعيت بل ډول دی.

ډېرو اسلامي هيوادونو هم د پرمختللو وسلو پېر ته اوره ورکړې ده، چې عرب هيوادونه يې ښه مثالونه دي.

له بده مرغه افغانستان بيا هغه هيواد دی، چې د پرمختللي او عصري نړۍ يوازې ننداره کوي، يوازې د امريکايي ځواکونو را پاته ټانکونه او توپکونه مو ذخيره کړي دي، په داسي حال کې چې يو څو بالسټيک توغندي د دې ټولو جواب وايي.

اړتيا داده چې د افغانستان اسلامي امارت سر د نن څخه د ټکنالوژۍ ودې ته پاملرنه زياته کړي، په دې برخه کې ځوانان وروزي، د فرصتونو څخه استفاده وکړي، ترڅو د راتلونکو خطرونو له پاره حداقل يوه اندازه تابيا ولرو.

افغانانو په تېره يوه پېړۍ کې له درو اشغالګرو سره زور ازمايلی، زمونږ پر هيواد د ډېرو دښمنانو سترګې سرې دي، ځکه چې بې وسه يو. اوس چې افغانستان امن دی، مرکزي حکومت لري، راسئ! د دې فرصت څخه سالمه استفاده وکړو، عصري تعليم ته وده ورکړو، افغانستان له هره اړخه په ټکنالوژۍ سمبال کړو، ترڅو د نورو په وړاندي د سيال کېدو اهل سو. اداره

د ايران او افغانستان سوداګريزي چارې له کومې ستونزې پرته په عادي ډول رواني دي

د ماليې وزارت مسئولينو ويلي، له ايران سره د افغانستان سرحدونه او ګمرکونه پرانيستي دي.

باختر اطلاعاتي آژانس ته د ياد وزارت په استول سوې خبرپاڼه کې راغلي دي: "د (يکشنبه د ۱۴۰۴ لمريز کال د غبرګولي ۲۵مه) له ګاونډي هيواد ايران سره د افغانستان سرحدونه او ګمرکونه پرانيستي، ګمرکي او سوداګريزي چارې له کومې ستونزې پرته په عادي ډول رواني دي."

د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې، د ايران اسلامي جمهوريت په بندر عباس کې هم د افغانستان د سوداګريزو توکو بارګيري له کومې ستونزې پرته په عادي ډول روانه وه.

هېره دې نه وي چې يوازې د فراه ولايت د ابونصر فراهي او نيمروز ولايت او د ايران لوري ګمرکونه په ياد هيواد کې د يو لړ مراسمو د ترسره کولو په موخه ترل سوي وو، چې بيرته پرانيستي او چاري يې د پخوا په شان ادامه لري.

په تېرو ۱۱ مياشتو کې ۲۴ بندونه جوړ سوي دي

په کندهار کې د تېرو ۱۱ مياشتو په موده کې د اوبو ذخيره کولو ۲۴ بندونه جوړ سوي دي.

د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست وياند محمد حنيف حقمل باختر خبري آژانس ته ويلي، په تېرو ۱۱ مياشتو کې د کندهار ولايت په ۱۳ ولسواليو کې ۲۴ لوی او کوچني بندونه، د باراني اوبو ذخيره کولو ۲۵٦ زره کندي او دوه حوضونه جوړ سوي چې مېليونونه افغانۍ لګښت پر راغلی دی.

۲مخ

د کندهار له تاريخي ځايونو زرونو سېلانيانو ليدنه وکړه

کندهار د افغانستان د لرغونو او تاريخي ولايتونو څخه شمېرل کېږي، چې د تاريخي سيمو ترڅنګ، د کندهار مېله ځايونه او د تفريح سيمې هم ځانګړی نوم لري.

د دې ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست اړوند، د ګرځندوی آمر مولوي شفيع الله عمري باختر خبري آژانس ته ويلي، سږ کال د لوی اختر په شپو او ورځو کې د اټکل له مخې زرونو کورنيو سېلانيانو د کندهار د تاريخي ځايونو، زيارتونو او تفريحي

۲مخ

له پاکستانه ۱۸۶ مهاجري کورنۍ هيواد ته راستنې سوې

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کې، د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو باختر خبري آژانس ته ويلي، د دوشنبې په ورځ ۳۰ مهاجري کورنۍ چې د غړو شمېر يې ۱٦۴ تنه کېدی خپل هيواد ته راستانه سول.

د بل خبر له مخې د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کې، د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو باختر خبري آژانس ته ويلي، د يکشنبې په

۲مخ

د غنمو په حاصلاتو کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی

د کندهار د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست مطبوعاتي مسئول محمد حنيف حقمل ويلي، د ياد رياست د معلوماتو له مخې، په دې ولايت کې د غنمو په حاصلاتو کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی.

د هغه په قول، سږ کال په دې ولايت کې پر ۹۸ زره ۳۸۲ هکتاره کرهنيزه ځمکه، د غنمو کرهنه تر سره سوې او د ۳٦۸ زره ۹۳۱ ټنو څخه زيات حاصلات څني ترلاسه سوي دي.

د حقمل په خبره، سږ کال د غنمو زياته

۲مخ

په ورځني ډول سوونه ټنه د چرګانو دانه توليدېږي

د کندهار د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست وياند محمد حنيف حقمل باختر خبري آژانس ته ويلي، په دې ولايت کې هره ورځ سوونه ټنه د چرګانو له پاره دانه توليدېږي چې په ياده برخه کې د کندهار د چرګانو فارمونه، د خوراکي موادو له اړخه د ځان بسيا کېدو مرحلې ته نژدې سوي دي. ياد توليدات د خصوصي سکتور له خوا د جوړوسوو نهو فابريکو له لارې ترسره کېږي چې ياده اندازه توليد يې په دوبي کې د لوړي تودوخې له امله ټيټېږي، خو بيا هم د ياد ولايت اړتياوې تر ډېره پوره کوي.

زرونه کېلو ګرامه نشه يي توکي د اور خوراک سول

د کندهار د امنيې قوماندانۍ وياند ملا اسدالله جمشيد د دوشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، د نشه يي توکو په وړاندي د مبارزې مديريت له لوري هغه ۱۳۰۸۰ کېلو ګرامه نشه يي توکي وسوځول سول، چې د تېر يوه کال په جريان کې نيول سوي وو.

په يادو نشه يي توکو کې ترياک، چرس، اومان، ټابليټ کا ګولۍ او داسي نور نشه يي توکي موجود ول.

۲مخ

بېلابېل موضوعات

د کوچنیوالي خاطرې

عبدالظاهر "څرک"

موږ چي کوچنیان و، دټوکرانو په ګیند به مو بازۍ کولې، دا ګیندان به په کورونو کي ښځو جوړول.

کله– کله به بیا ځینو شوخو هلکانو په تېلو ولړل او اور به یې ور واچاوه، پورته– پورته به یې غورځاوه، چي دا هم د هلکانو له پاره یو سرګرمي او ساعت تېری و.

هلکانو د پنځلسي په شپه یا د برات پر پنځلسمه سورسورانکي او ټکان ډېر کول، دا شیان ټول په کندهار کي جوړېدل او د سدوزو کوڅې په دوکانونو کي به خرڅېدل، لړ شګي او بارود به یې سره ګډ کړل، په پنډ کاغذ کي به یې په ګردي شکل په تار وپېچل چي د مځکي یا پر دېوال به یې وویشتی، ټک به یې کاوه، دا ټکان به په ودونو کي هم عمومًا استعمالېدل، که څه هم پولیسو بندیز پر لګولی و.

تعویذک، سګلاوو، غربینه، باغ؛ ټول هغه شیان ول چي بارود په کښي استعمالېدل او کوچنیانو به زیاته علاقه ور سره درلوده، داسي ښکارېدل چي دا فرهنګ موږ ته د هند څخه را نقل سوی وي، خواوس نسته او یوازي په ځینو مراسمو کي اور لوبي کېږي، پخوا به د جشن په آخري شپه د حکومت له خوا اور لوبي کېدلې.

چیني لوښي لکه: غابونه، پیالې، غوریګان او چاینکي چي به مات سول، هغه میده ټوټو ته به یې ګیچان ویل چي دا به هم هلکانو په دبلیانو کي اچول او ساعت به یې په تېراوه او خرماختسکي به یې ډېري ساتلې. کله– کله به بازۍ په کېدلې. هر چا چي به ډېري وګټلې. هغه به یې ساتلې، کله– کله به یې جفت و طاق هم په کاوه.

مردکي او بجلي هم ډېري کېدلې. د نورو بازیو ترڅنګ به یې په مردکو ګرګ و مېش او جوغ جوغ هم کاوه.

یو بل د ساعت تېري شی چي نجارانو به د تختو څخه جوړاوه، څرخندوکی و، چي د دوو ګوتو د فشار په نتیجه کي څرخېدی.

چرخ فلک د کوکنارو پر لرګي د کاغذ څخه د ګل په شکل جوړېدی او د باد په ذریعه به څرخېدی، هلکانو به کله د سر په رخچینه یا په لاس کي نیولی و.

خو دا د بازیو شیان هرڅه چي ول، په هیواد کي دننه جوړېدل.

غټو هلکانو کاغذ بادونه په هوا کول او جنګول به یې او په ښوونځیو کي به یې فوټبال او والیبال کاوه، توپ ډنډه، کبډۍ، خوسی، غېږ ایستنه، هوایي مرغک، ټنډه خره، پټېدونکی، ړوند چرګ، ارګوړي برګوړي، الاداد، درنه خط، تېل تېل، لپاټکی، پاچا وزیرک، اتڼ او داسي نوري بازۍ به هم ځوانانو کولې، نجونو به اکثره اشاتور، اکوبکو، اناګۍ، ناوکۍ، شا شا کوکۍ کوکۍ، مستفاوي، چناغ ماتول او نوري بازۍ کولې، د پاخه سن کسانو بیا کتار او غولبند کاوه. کتار داډول و چي پر مځکه به یې خطونه کش کړل او په کوچنیو ډبرو به یې کاوه.

خو ډېره جالبه بازي کاغذ بادونه وه چي په خپل موسم کي هلکانو په هوا کول.

د مخابراتو شاته په هدیرو کي به د جمعې په ورځ ټولي هدیرې په هلکانو ډکي وې، هغه وخت په هدیرو کي کورونه نه ول جوړ سوي.

څوارلس کلن به وم، پر بام مي کاغذ باد په هوا کړی و، کاغذ باد د همسایګانو کور ته غوټه سو، مانجه مي راکشوله او کرار– کرار پر شا را روان وم، فکر کي نه و، پر شریفه مي پښې راواښتې او لوی درز مي تر غوږ سو، سرای ته راولوېدم، ښځمنو په سرای کي چای څښلې، زه یې مخ ته راولوېدلم، نارې سوې، هې– هې سو، زه بې هوښه وم. د خدای فضل وسو چي پر سر نه را ولوېدم او د شا پر تخته ولوېدم، هغه وخت زموږ سرای په ډبرو فرش و، مازیګر و، کور څوک نه ول، ماما مي را خبر سو، زه یې په موټر کي په چهارسوق کي د عین الدین اسلمي په نامه ډاکټر ته بوتلم، هغه تر کتلو ورسته وویل، د ملا موړې یې سره خطا سوي دي، نو زه یې پړمخي پرې ایستلم او د لاس په زور یې موړې خپلو ځایونو ته ور وستلې، چي ډېر درد یې کاوه.

وروسته یې پنبه زما ټول بدن ته ور کړه او په کلک پلستر یې ملا او سینه د ۲۵ ورځو له پاره را وتړله، تر ټاکلي مودې وروسته مي پلستر خلاص کړ او جوړ سوم.

که په اوسني وخت کي دا حادثه پېښه سوې وای، خامخا به هند یا پاکستان ته تلای.

پر ایران د اسرائیلو برید

مولوي نورالحق "مظهري"

دا یقیني خبره ده چي پر ایران باندي اسرائیلو پر خپل سر برید نه دی کړی، بلکي د امریکا په مستقیم فرمان یې کړی او دا حمله د ایراني حکومت د سقوط له پاره نه ده سوې، بلکي ایران ته د خطر یو زنګ دی چي یا به تر خپلو اټومي پروګرامونو تېرېږي او یا به هم د عراق په برخلیک اخته کېږي، د دې حملې تر شا ډېر هدفونه سته، چي تر ټولو مهم یې د روسیې، شمالي کوریا، چین او ایران اتحاد له منځه وړل دي او د اسرائیلي جغرافیا د پراختیا خوبونه رښتیا کول دي چي له مخکي څخه یهودانو پلان ورته جوړ کړی دی.

امریکا به د اسرائیلو په واسطه په منځني ختیځ کي د ځان په وړاندي ټول احتمالي ګوابنونه له منځه یوسي چي په نتیجه کي به اسرائیل د منځني ختیځ زبرځواک سي او د آسیایي هیوادونو د کنټرول له پاره به د امریکا تر ټولو ستره اډه ورڅخه جوړه سي چي بیا چین او روسیه هم د امریکا ګټو ته زیان نه سي رسولای، د ترکیې د پرمختګ مخه به ونیول سي او عربي هیوادونه به لا نور هم د امریکا په وړاندي د غلامۍ سر ټیټ کړي.

سیاسي حالات ډېر پېچلي دي او په سوریې، لبنان او غزه کي تحولات له ځانه سره ډېر لوی پیغام لري.

الله تعالی دي وکړي چي د مسلمانانو په ګټه تمام سي.

ایران او اسرائیل

احمد "خاطري"

پر ایران د اسرائیلو برید د امریکا او متحدینو هغه نوې پالیسي را سربېره کوي چي د اسلامي نړۍ پر هیوادونو د مخامخ یرغل پر ځای، د اسرائیلو په مټ بریدونه کوي او خپل ځان په کښي دخیل نه ګڼي، اسرائیل د امریکا لاسپوڅي دي.

تر لبنان او سوریې وروسته، پر ایران د اسرائیلو دا ډول لوی برید، د اسلامي نړۍ په ځانګړي ډول، د هغو هیوادونو له پاره چي دفاعي او نظامي ځواک یې نسبتاً غښتلی وي، د خطر زنګ دی.

اسلامي نړۍ ته په کار ده چي بې له ځنډه د یووالي پر لور ګامونه پورته کړي او د امریکا د نوې لوبې په وړاندي متحد سي، که نه وي، نو لکه ستر زعیم حفظه الله د اختر د بیان خبره یو– یو به یې خوري.

په سیمه کي دا روان کړکېچ د یو اسلامي هیواد په ګټه هم نه دی، بلکي ټول د ایران له برخلیک سره مخامخ کېدونکي ښکاري.

اسلامي نړۍ له مذهبي اختلاف سره– سره باید د ایران ملاتړ ته را ودانګي او د نړیوال استکباري او استبدادي قوتونو په وړاندي خپل مشترکات وپالي.

د فلسطین په وړاندي د اسلامي نړۍ خاموشي او بې تفاوته پاته کېدل، د دې لامل سول، چي اسرائیل نورو اسلامي ملکونو ته د ظلم او وحشت لاسونه اوږده کړي.

د خوشحال خان خټک د دېوان نومبود

ګل احمد "جلالي" — پنځمه برخه

ارغوان:

که سل برګ که بنفشه که ارغوان دی
د هر رنګ په ننداره خاطر کرار سي

ارغوان چي اصلي او لاتیني نوم یې Argcis Siliquastrum یو طبعي او دښتي ګل دی، چي په انګلیسي بیا Judas Tree ورته وایي او پاڼې یې ګردۍ– ګردۍ، خو په لږ فزیکي توپیر زړه ته ورته جوړښت لري، چي خورا ډېر سره ګلان کوي، دغه سره ګل ته د ارغوان ګل ویل کېږي.

ارغوان د پسرلي په میاشت کي د خپلې ځوانۍ پر هغه ټاپه مستي کي وي چي د نړۍ په ډېرو هیوادونو کي لکه: ایران، هندوستان، پاکستان، یونان، ترکیه لبنان، فلسطین او... نورو کي هم سته.

د پښتو د مبتکر شاعر عبدالباري جهاني لسمه شعري ټولګه هم د ارغوان په نامه په ۱۳۹۸ لمریز کال چاپ او نشر سوې ده.

خواجه حافظ شېرازي ویلي:

ارغوان جام عقیقي به سمن خواهد داد
چشم نرګس به شقایق نګران خواهد داد

میرزا حنان بارکزی ویلي:

پر رخسار دي تور خط هسي چاري وکړې
لکه چیر ته سي موسم د ارغوان تېر
(دېوان ۶۱ مخ)

کاظم خان شیدا ویلي:

د بهار په تماشا دي څه موقوف وو
چي دي بلي سرې لمبې په ارغوان کړې
(دېوان ۲۹۱ مخ)

مولوي عبدالغفار بریالي ویلي:

کباب زړه مي د ګلرخ په مهماني ولاړ
د سرو وینو په جامه ارغواني ولاړ
(اهار ۷۷ مخ)

خان غني خان ویلي:

سرې لمبې دي ارغوان باندي کړې بلي
د ګل پاڼو کي دي نغښتي سره اورونه

پیر محمد کاروان ویلي:

ته راشنه سې په سره شال په شنه لباس کي
شین طاووس په سر کي ناست د ارغوان

احمد فراز ویلي:

ارغوان کے خوشبونے دل کو بهکا یا ہے
یه محبت رنگ ہے، جو دل مین رچا یا ہے

؟؟؟ وایي:

ارغوان کے خوشبوے مہکنے لگا چمن
پهر بهار ائے ہے، دل کو قرار آیا ہے

سعدي شېرازي ویلي:

ور بی تو میان ارغوان و سمنم
بنشینم و چون بنفشه سر برنګنم

فیض احمد فیض ویلي:

ارغوان کے خوشبو، رنګون کے بهار
تمهارے لبون کے مسکراهټون مین چهپے ہے

د یادوني وړ ده چي د ارغوان ګل د افغانستان په پلازمېنه کابل کي هم په طبیعي ډول را شین کېږي او په نورو ولایتونو لکه پروان او لوګر کي هم سته.

لړۍ ادامه لري...

(۱) مخ پاته: په تېرو ۱۱ میاشتو کي...

د یادو بندونو څخه ۱۲ بندونه د ۲۹ میلیونو، ۴۳۱ زره افغانیو په لګښت، د امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د حکم پر اساس جوړ سوي، دوه بندونه د شپږو میلیونو افغانیو په ارزښت، د کرهنې وزارت پراختیایي بودجې له لاري جوړ سوي، نهه بندونه، دوه حوضونه او ۲۵۶ زره د باراني اوبو ذخیره کولو کندي، د ۲۱ میلیونو ۳۳۱ زره افغانیو په ارزښت، د ملګرو ملتونو د کرهنې او خوراک نړیوال سازمان له لوري جوړ سوي او یو لوی د اوبو بند د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام نړیوال سازمان له لوري جوړ سوی دی.

یاد بندونه د تېرو ۱۱ میاشتو په اوږدو کي د کندهار ولایت په غورک، کښته میوند، لوړ میوند، رېګستان، درې په شاولي کوټ، درې په خاکرېز، درې په ارغستان، دوه په میانشین، دوه په سپین بولدک، درې په تخته پل او څلور په نېش ولسوالۍ کي جوړ سوي دي.

(۱) مخ پاته: د کندهار له تاریخي...

یاد سېلانیان د خرقې مطهرې زیارت، احمد شاه بابا زیارت، د میرویس خان نیکه زیارت، د باباولي صاحب "رح" زیارت، شاه مقصودي زیارت، د دهلې بند، سربند، د عینو مېنې ښارګوټي تفرېحي پارکونو، د ارغنداب، ژړۍ، شاولي کوټ شنو او یخو ساحو څخه هر کال په رخصتیو او د اختر په شپو او ورځو کي لیدنه کوي.

(۱) مخ پاته: له پاکستانه ۱۸۶ مهاجري...

همدارنګه د کندهار ولایت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبیت کمېټې مسئولینو باختر خبري آژانس ته ویلي، د شنبې په ورځ ۴۷ مهاجري کورنۍ چي د غړو شمېر یې ۲٦۰ او ۲۷ تنه زنداني مهاجر و، خپل هیواد ته راستانه سوي دي.

همداراز په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبیت کمېټې مسئولینو باختر خبري آژانس ته ویلي، د پنجشنبې په ورځ نهه ویشت کورنۍ چي د غړو شمېر یې ۱۶۹ تنو ته رسېږي، خپل هیواد ته راستانه سول.

همدارنګه همداراز د یادي کمېټې مسئولینو باختر خبري آژانس ته ویلي، د چهارشنبې په ورځ ۲۸ مهاجري کورنۍ چي د غړو شمېر یې ۱۴۵ او ۱۲ تنه زنداني مهاجر خپل هیواد ته راستانه سوي دي.

له یادو کورنیو سره د اسلامي امارت اړوندو ادارو له خوا نغدي مرسته سوې او هم مرستندویه مؤسسو ته د مرستې له پاره ورپېژندل سوي دي.

(۱) مخ پاته: د غنمو په حاصلاتو کي...

کرهڼه او د غنمو د ناروغیو او آفتونه کموالی، د دې سبب سوی چي د غنمو په حاصلاتو کي د پام وړ زیاتوالی راسي.

د یادوني وړ ده، چي تېر کال په کندهار کي پر شاوخوا ۹۶ زره ۳۸۲ هکټاره کرهڼیزه مځکه، د غنمو کرهڼه تر سره سوې او ۳۶۱ زره ۴۳۲ ټنه حاصلات ځني تر لاسه سوي وو.

(۱) مخ پاته: زرونه کیلو ګرامه نشه یي ...

د یاد ولایت د د امان ولسوالۍ اړوند، د معتادینو کمپ ته څېرمه د امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د حکم پر اساس وسوځول سول.

د یادوني وړ ده، چي تر دې وړاندي هم په ټنونو نشه یي مواد سوځول سوي وو.

اعلانونه او خبرتیاوي

د ورکي اعلانونه

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عبدالحق د نور محمد د زوی او د حاجي محمد رسول د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0705829132

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د بي بي حسيني د سراج الدين د لور او د نصرالدين د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0702530539 – 07074113946

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د داروخان د حاجي شهزاده د زوی او د شېر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0700473930

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمد مدت "احمدي" د نورالباقي زوی او د عبدالنبي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0702176003

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د آمنه "حميدي" د محمد حسين لور او د حاجي غلام جيلاني لمسۍ، آداب الدين "حميدي" د احمد الدين زوی او د حاجي علاؤالدين لمسي، کائنات "حميدي" د احمدالدين لور او د حاجي علاؤالدين لمسۍ او افراح د امان الدين لور او د حاجي علاؤالدين د لمسۍ په نومونو دي، ورکي سوي دي، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0700777614

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د سميع الله د سردارولي زوی او د حاجي نظر علي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0704238933

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د پرواني "کاکړ" د ظاهر جان د لور او د راز محمد د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0707624328

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عزت الله د فضل محمد زوی او د سردار محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0711470537

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عبدالقدير "حاجي تور آغا" د امير محمد د زوی او د حاجي محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0700334172

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د مروا د حاجي رحمت الله لور او د حاجي سردار محمد د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0706830907 – 0700308812

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د قادر د انور زوی او د علي ياور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0706236435

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د رحيم الله د سردار محمد زوی او د دادالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0700348444

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د نقيب الله د غلام حيدر د زوی او د غنډ د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0700885300

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عبدالوارث "فاضلي" د ندا محمد د زوی او د مولوي محمد فاضل د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0708304148

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عبدالسلام د ګلستان زوی او د سلطان جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0702528820

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عبدالشکور "جهادالله" د ګل نور "عمري" او د الله نور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0709946372

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د حکمت الله د عبدالخالق د زوی او د حاجي ملنګ د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0702348531

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمد هاشم د محمد رسول د زوی او د غلام حيدر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0700079337

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د بي بي کوثر "نور" د صديق الله "نور" د لور او د عبدالخالق د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0700597205

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د نعمت الله د احمد د زوی او ملا علي جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0708907893

د ورکي اعلانونه

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د بخت محمد "محمدي" د محمد اشرف د زوی او د حاجي نور محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0708672995

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمديونس د محمدجان د زوی او د اختر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0700780486

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عصمت الحق د فضل الحق د زوی او عبدالغفار د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0707005820

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمد ادريس د عبدالوحيد زوی او د پاياب د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0702446639

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمد ګل د حاجي غلام رسول د زوی او د عيسى محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0705214867

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د مولوي حزب الله د ملا محمد معصوم زوی او د ملا سيدامير د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0704096908

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د عايشه د محمد سرور د لور او د عبدالحبيب د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0749870371

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د تورجان د محمد ايوب د زوی او د محمديوسف د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0706853449 - 0708304802

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د جان محمد د نظر محمد د زوی او د حاجي محمدولي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0706420982

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د رفيع الله "صالح" د صالح محمد د زوی او د مهردل د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0704215227

❁❁❁

یوه قطعه بر ښنايي تذکره چي د محمد داؤد د حاجي باري داد د زوی او د محمد غوث د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي : 0702275806

زیاتوونکي غواړي

د ارغنداب ښاروالي غواړي خپل ملکيت د بابا صاحب د تکيې پارکينګ چي په لومړۍ داوطلبي کي اسدالله د علي محمد د زوی د ترتيب سوي شرطپاڼي مطابق د يوه کال له پاره په اجاره مبلغ ۰/ ۱۰۱۰۰۰ يو سل او يو زر افغانۍ غوښتونکی دی. هرڅوک چي يې د مزايدې په دوهمه داوطلبي کي تر پورته مبلغ په اضافه پيسو غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د وران کال د جوزا مياشتي د ۲۶ نېټې څخه بيا د سرطان مياشتي تر اولي نېټې پوري ارغنداب ښاروالۍ ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمين نغدأ لس فيصده اخيستل کېږي. د داوطلبۍ مجلس به د ۱۴۰۴ ل کال د سرطان مياشتي پر دوهمه نېټه، د دوشنبې په ورځ، په ارغنداب ښاروالۍ کي صورت نيسي.

ډېروونکي غواړي

د ارغنداب ښاروالي غواړي خپل ملکيت درې بابه د انارو باغچې چي په لومړۍ داوطلبي کي محمد قسيم د محمد ظاهر د زوی د ترتيب سوي شرطپاڼي مطابق د يوه کال له پاره په اجاره مبلغ ۰/ ۱۲۵۰۰ – دوولس زره پنځه سوه افغانۍ غوښتونکی دی. هرڅوک چي يې د مزايدې په دوهمه داوطلبي کي تر پورته مبلغ په اضافه پيسو غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د وران کال د جوزا مياشتي د ۲۵ نېټې څخه بيا د همدې مياشتي تر يو دېرشمي نېټې پوري، د ارغنداب ښاروالۍ ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمين نغدأ لس فيصده اخيستل کېږي. د داوطلبۍ مجلس د ۱۴۰۴ ل کال د سرطان مياشتي پر لومړۍ نېټه، د يکشنبې په ورځ په ارغنداب ښاروالۍ کي صورت نيسي.

په اجاره يې ورکوي

د کندهار ښاروالۍ ملکيت، د لسمي ناحيې مربوط، د شرقي لين په اډه کي څلورم نمبر غټ هوټل او د حمام قرارداد د شرطپاڼي مطابق، د يو کال له پاره د آزادي داوطلبۍ له لاري په اجاره ورکوي. ټول هغه اشخاص چي پر شرايطو برابر وي او غواړي چي په داوطلبي کي ګډون وکړي، خپل غوښتنليکونه دي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا مياشتي د اته ويشتمي نېټې څخه بيا د سرطان مياشتي تر دريمي نېټې پوري، د ښاروالۍ رياست، د تدارکاتو او قراردادونو آمريت ته وسپاري او وروسته دي شرطپاڼه د مسئول کس څخه تر لاسه کړي، د اجارې د سرجمع څخه شل فيصده تضمين نغدأ اخيستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس د روان کال د سرطان مياشتي پر څلورمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر نهه بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي، د ښاروالۍ رياست، د تدارکاتو او قراردادونو په آمريت کي صورت نيسي او د لازياتو معلوماتو له پاره دي پر ذکر سوو شمېرو اړيکي ونيسي : وټساپ : 0707159718 ټيليفون شمېره : 0700433567

شعر او آدب

د طلوع رنګيني وړانګې

غزل

اميرحسن "نوري"

چا په اوښکو باندي لوی کړل ټوکېدلي ګلابونه
چا کرلي ګلابونه چا رېبلي ګلابونه

❦❦❦

دلته کومه سېلۍ نه وه بې خزانه تېره سوې؟
دلته کومي تالا نه کړل رسېدلي ګلابونه؟

❦❦❦

دا اوبه کړئ ښه په مينه د دې ګل وطن وګړي
داسي ښکاري لکه جنګ اور وي وهلي ګلابونه

❦❦❦

زموږ ګران افغانستان سپين د وقار څادر اغوستی
دا کدرونه لکه لاس کي يې نيولي ګلابونه

❦❦❦

چي احساس د دين پښتو او محبت ورپه کښې ټول وي
د غزلي په اوربل خوند کړي ټومبلي ګلابونه

❦❦❦

"نوري" زموږ غريوناکي شونډي به موسکا ته مهماني کړي
زموږ د هيلو دي غوټيو را سپړلي ګلابونه

غزل

نوراحمد قرآن مل

چي د هلال غېږ کي ونيو دا سپين مخ جلوه ګر
د ښلتانه کور دي ويران کړ په الخ جلوه ګر

❦❦❦

ډېرو ترلي وو خيالونه ستا د ناز پر بياض
اوس نيسي وړاندي هري خواته زربلخ جلوه ګر

❦❦❦

مانو د ياس له چپلاخي کښتې ودرول
چي له تقديره سو آګاه د وچ نفخ جلوه ګر

❦❦❦

د قرآن رنګ د زماني پر رنګ محيط ښکاري
سو "قران مل" د ناسوت درد کي په وخ وخ جلوه ګر

غزل

احمد "بريالی"

هر د عمر قلف د خلاصېدو نه وي
مېني د چا وراني په پېرزو نه وي

❦❦❦

سترګي د څکال دي کړي تياري چي
هيلي تل بسته پر پېلبو نه وي

❦❦❦

نوري د غرض ميني سي ختمي يو
مينه چي شريکه د زانګو نه وي

❦❦❦

وخت د زلميتوب وي غنيمت مګر
هره کيسه کار د شنو ټېکو نه وي

❦❦❦

درد د بېغورۍ تر نورو سخت وي نو
هر سړی بې ځايه په سلګو نه وي

❦❦❦

هر سړی خاطر د خپلي ګټي کړي
هر څوک تل پابنده د پښتو نه وي

❦❦❦

هر څوک مدعا د معصوميت کړي خو
دا وراني کيسې د فرشتو نه وي

❦❦❦

تل وي "بريالی احمد" ستومانه خو
داغ يې لا تراوسه پر کالو نه وي

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، دلیکنو په اصلاح کې د لاسوهنې حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چې د اسپېڅلي پاڼي بې ځایه و نه غورځوئ!

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چي د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمریزکال په آخرکي د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼي یو بشپړ کلکسیون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپاڼه کي ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندي کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده. اداره

مسئول مدیر: ـــــ بریالی "فیضي"

د تصحیح مسئول: ـــــ حاجي عبدالله "ذاکري"

کمپوز او ډیزاین: ـــــ نصیر احمد "صابر"

د مدیریت شمېره: ـــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳

د توزیع مدیریت شمېره: ـــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶

پته: ـــــ علامه حبیبي واټ – اطلاعات او فرهنګ ریاست

د برېښنالیک پته: ـــــ baryafaiz981@gmail.com

Founded in 1921 ISSue: 13 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

قرارداد کوي

د کندهار د عامي روغتیا ریاست غواړي چي د میرویس حوزوي، عینو مېني (۳۵۰) بستریز او نورو اړوندو روغتونونو له پاره، د (۶۱) قلمه هایجني موادو (د پاکوالي، روغتیا ساتني او د مکروبونو د مخنیوي له پاره استعمالېدونکي) قرارداد د تدارکاتي پلان پر اساس وکړي. علاقمند داوطلبان کولای سي، چي د اعلان د نشر د نېټي څخه بیا د (۲۱) کاري ورځو په جریان کي دي شرطپاڼه او آفر فورمې د ولایت مقام او عامي روغتیا ریاست څخه ترلاسه کړي. او د یاد قرارداد داوطلبي، د سرطان میاشتي پر (۱۹) نېټه تر سره کېږي.

شماره	نوم	ځانګړتیاوې	واحد	مقدار	شماره	نوم	ځانګړتیاوې	واحد	مقدار	شماره	نوم	ځانګړتیاوې	واحد	مقدار
۱	سور پلاستیک ۹۰ سانتي متره	اعلی درجه؛ لومړیتوب وطني جنس ته ورکول کېږي	کیلو	۱۲۰۰۰	۲۱	ربړي موزې	اعلی درجه؛ لومړیتوب وطني جنس ته ورکول کېږي	جوړه	۴۰۰	۴۱	۲۰لیټره مایع ډیټول	اعلی درجه؛ لومړیتوب وطني جنس ته ورکول کېږي	ډبه	۸۰۰
۲	تور غټ پلاستیک ۱۲۰ سانتي متره	//	//	۵۰۰۰	۲۲	غټ قلف	//	داني	۳۰۰	۴۲	د خرخ ګنډلو ستني	//	پاکټ	۵۰
۳	تور میانه پلاستیک ۹۰ سانتي متره	//	//	۱۰۰۰۰	۲۳	میانه قلف	//	//	۳۰۰	۴۳	د خرخ تېل	//	بوتل	۱۵۰
۴	د مایع صابون ۴ لیټره ډبه	//	داني	۲۵۰۰	۲۴	کوچنی قلف	//	//	۳۰۰	۴۴	د ګنډلو ګوتونه	//	داني	۳۰۰۰
۵	د لاس پرېولو صابون	کریس کمپنی	داني	۱۶۰۰۰	۲۵	آب ګرمي	//	//	۵۰۰	۴۵	د فزیو د چیسټ بوتلان	//	بوتل	۳۶۰
۶	اصلي درهم خوشبویي سپرې	درهم سپرې	بوتل	۱۴۰۰	۲۶	یو لیټره تبرک تېزاب	//	بوتل	۳۵۰۰	۴۶	د ORS–۱۰ لیټره ترموز	//	داني	۱۰۰
۷	جارو	وطني	داني	۱۵۰۰	۲۷	د مچانو تارومار سپرې	//	//	۱۲۰۰	۴۷	خاک انداز	//	//	۱۵۰
۸	ربړي ویفر	اعلی درجه؛ لومړیتوب وطني جنس ته ورکول کېږي	//	۱۵۰۰	۲۸	د لوښو سیمي چالي	//	داني	۷۰۰	۴۸	۴لیټره چایر	//	//	۱۵۰
۹	د تشناب بورس	//	//	۲۰۰۰	۲۹	تشناب کاغذ	//	داني	۱۰۰۰۰	۴۹	میانه دېوالي ساعت	//	//	۵۰
۱۰	د لوښو پرېولو یو لیټره صحت شامپو	//	بوتل	۲۰۰۰	۳۰	پوډري ویم دبلی والا	//	دبلی	۲۰۰۰	۵۰	دېوالي کوټ بند	//	//	۱۵۰
۱۱	ربړي دستکلې	//	جوړه	۵۰۰۰	۳۱	۴۵۰ګرامه پاکټي پوډري صابون	//	پاکټ	۱۲۰۰۰	۵۱	د هندارو صحت سپرې	//	//	۲۰۰
۱۲	د کالو پرېولو چکې صابون	//	چکی	۷۰۰۰	۳۲	شل کیلویي پوډري صابون	//	پارسل	۱۵۰	۵۲	د کالو ټوکر	نوراني سنګر	متر	۴۰۰۰
۱۳	پاس پاس موپ	//	داني	۲۵۰۰	۳۳	یو کیلویي هالګه	//	کیلو	۲۵۰	۵۳	ریګزین	اعلی درجه؛ لومړیتوب وطني جنس ته ورکول کېږي	//	۱۵۰۰
۱۴	د تشناب ربړي پمپ	//	عدد	۲۰۰۰	۳۴	۵۰۰ملی دبلی والال واسلین	//	دبلی	۴۰۰	۵۴	پراشوټ	//	//	۱۰۰۰
۱۵	د وېښتانو شامپو	د سوربې جوړه، بیوغر ۳۷۰ملی	بوتل	۹۰۰۰	۳۵	د فزیو له پاره رسی	//	داني	۱۰۰۰	۵۵	د کفن ټوکر	//	//	۴۰۰۰
۱۶	د خان وچولو غټ اتوالان	اعلی درجه؛ لومړیتوب وطني جنس ته ورکول کېږي	داني	۱۰۰۰	۳۶	لاسي بورس	//	//	۱۰۰۰	۵۶	پنبه	//	کیلو	۱۲۰۰
۱۷	د لاس وچولو کوچني اتوال	//	//	۱۳۰۰	۳۷	د لانډری له پاره بورس	//	//	۱۵۰	۵۷	ټرالي ټایر ۱۳انچه	//	داني	۲۵۰
۱۸	بې ښیښې د چایو ۲لیټره ترموزان	//	//	۳۰۰	۳۸	د خړیلو لېزر	//	//	۶۰۰۰	۵۸	ټرالي ټایر ۱۴انچه	//	//	۲۵۰
۱۹	عادي د چایو ګیلاسونه	//	//	۱۰۰۰	۳۹	لېټر	//	//	۱۰۰	۵۹	ټرالي ټایر ۱۶انچه	//	//	۲۵۰
۲۰	پلاستیکي چمپلان	//	جوړه	۱۵۰۰	۴۰	کلورین ګولی	//	//	۳۰۰۰۰	۶۰	ټالي ټایر ۱۸انچه	//	//	۲۵۰
										۶۱	دېوالي پاس پاس	//	//	۱۲۰۰

ضروري یادونه: په ټولو شیانو کي لومړیتوب خپلو داخلي تولیداتو ته ورکول کېږي.